تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:**

څوک چې د الله (ج) د کور (کعبې) حج وکړي، بيا د حج په دوران کې نه فحش او شهواني خبرې وکړي او نه گناه او نافرماني وکړي، نو هغه داسې (له گناهونو) پاک راستنيږي لکه نن چې له خپلې مور څخه زيږېدلی وي. [صحيح بخاري ۱۸۱۹]

**ترجمه: از ابوهريره رضی الله عنه روايت است که رسول الله ﷺ فرمودند:**

«هر کس که خانه (کعبه) را حج کند و در جريان حج سخنان زشت و شهوانی نگويد و مرتکب گناه و نافرمانی نشود، از گناهان پاک بازمی‌گردد؛ همانند روزی که مادرش او را به دنيا آورده است. [صحيح بخاري ۱۸۱۹]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

محرم الحرام ۱۸ -۱۴۴۸س | د چنگاښ ۱۳ -۱۴۰۵ل ل | د جولای ۴ -۲۰۲٦ | شپږم کال | ۱٦۷ گڼه | ٤ مخيزه



## د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمانونو لړۍ

**د خېښۍ، ودونو او د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی فرمان**

**د واده په اړوندو چارو کې د رعايت وړ ټکي**

**د بالغې نجلۍ ولي، چې په اکثره وختونو کې د هغې پلار يا ورور وي شرعاً مکلف دی، چې د هغې د شرعي حقوقو رعايت وکړي.**

## سرمقاله


### په گمرکونو کې د سوداگريزو توکو خونديتوب د ماليې وزارت لومړيتوب دی

سمبال او د اوسنۍ نړۍ په عصري امکاناتو او وسايلو پوښلي گمرکونه د سوداگرۍ په ډگر کې واجبي مسئله ده او د سوداگريزو توکو خوندي ساتل د ماليې وزارت د اړوندو ادارو يو عظيم مسئوليت دی. دا چې د افغانستان ملي سوداگر په ورځني ډول د ميليونونو حتی ميلياردونو افغانيو په ارزښت خوراکي او غير خوراکي توکي د افغانستان خاورې ته د همدې گمرکونو له لارې را دننه کوي او بيا له همدې لارې د ټول ملت اړتياوې پوره کوي، نو دا د نظام او ښکيلو اړخونو گډ مسئوليت دی، چې لگول شوې پانگې ته د ارزښت په سترگه وگوري، په ساتنه او تصفيه کولو کې يې له پوره پاملرنې کار واخلي او ټول هغه کاري ځواک په کار واچوي، چې په چارو کې تشه او بې نظمي رامنځته نه شي. د دغو توکو ارزښت ساتلو او له سوداگرو سره پوره همکاري کولو ته په کتو سره د ماليې وزارت رهبري او د گمرکونو لوی رياست مسئولينو په اکثريت گمرکونو کې په پرلپسې ډول د گمرکونو عصري کولو او سمبالولو ته ځانگړې پاملرنه کړې ده. د دغه رياست په لارښوونه په تېره يوه مياشت کې د بلخ ولايت د خلورم پورټ (نائب اباد) په گمرک کې د (۳۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د سايوان جوړولو پروژه گټې اخيستنې ته وسپارل شوه. دغه ستر سايوان په (۸۰۵۰) متره مربع سيمه کې جوړ شوی، چې (۳۵۰) متره اوږدوالی او (۲۳) متره پلنوالی لري، چې ورسره د سوداگريزو توکو د خونديتوب په برخه کې سوداگرو او د گمرک کارکوونکو ته گټې اسانتياوې رامنځته شوي دي. دغه ډول پروژې، چې په ښه کيفيت او کميت جوړېږي، لگښت يې هم د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي او ترځنگ يې دغه ډول پروژې د خپلو افغانانو له خوا د دوی پر لاس او امکاناتو سرته رسېږي. دغه يواځينۍ پروژه نه ده، چې په يوه گمرک کې پلي کېږي؛ بلکې په يو شمېر نورو سترو او کوچنيو گمرکونو کې د سايوانونو، گودامونو، احاطوي دېوالونو، امنيتي ټاورونو، باروړونکو موټرونو د تم ځايونو په ساحو کې د جغل اچولو او امنيتي کامرونو نصبولو ترڅنگ په گڼ شمېر نورو عصري کېدونکو او معياري کوونکو پروژو باندې کار شوی دی او په ټوله کې ملي سوداگرو ته د توکو د خونديتوب فرصت په لاس ورکړل شوی او د اړوندو ادارو کارکوونکو د ورځنيو چارو اسانه کولو او کاري پروسو را لنډولو لاره هواره شوې ده. د ماليې وزارت رهبري د خپلې ژمنې او کاري ژمنتيا د ترسره کولو لپاره د خپلو شته ټولو قانوني امکاناتو په کار اچولو سره، سوداگرو، ماليه ورکوونکو، دوکاندارانو او کسبه کارانو ته زمينه برابروي، چې خپلې پانگې په ډاډمنه فضا او خوندي ځايونو کې وکاروي او له کومې ستونزې پرته د پراخو کاروبارونو گام پورته کړي. د ماليې وزارت رهبري او ټول کاري ټيم ستاسو ترځنگ ولاړ دی او د نافذه قوانينو په رڼا کې مو لاس نيوی کوي.

در نبت

اداره

## د ماليې وزير هرات او فراه ولايتونو ته سفر وکړ



د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند د خپلو رسمي ولايتي سفرونو په لړ کې دا ځل د دغه وزارت د يو شمېر رئيسانو او مسئولينو په ملتيا هرات او فراه ولايتونو ته سفر وکړ. نوموړي، د دغه سفر په لړ کې د يادو ولايتونو د مستوفيتونو او گمرکونو له چارو څخه ليدنه وکړه او هلته يې د عوايدو راټولولو بهير، په لگښتونو کې د سپما اصل په پام کې نيول او نورې اړوندې چارې له نږدې و ارزولې او د د لا ښه والي په موخه يې مسئولينو ته لازمي سپارښتنې هم وکړې. د ماليې وزير او مل پلاوي د ولايتي مسئولينو پرمختگونه وستايل او د هغوی ستونزې يې هم واورېدې، چې شته ستونزو ته د رسېدو په موخه د اصولي اجراآتو بشپړ ډاډ ورکړل شو.

## د نائب اباد په گمرک کې د (۳۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د سايوان جوړولو پروژه گټې اخيستنې ته وسپارل شوه





د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست له لوري د بلخ ولايت د خلورم پورټ (نائب اباد) په گمرک کې د (۳۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د سوداگريزو توکو د تخليې او بارگيرۍ لپاره د سايوان جوړولو پروژې رغنيزې چارې بشپړې او گټې اخيستنې ته وسپارل شوې. دغه ستر سايوان په (۸۰۵۰) متره مربع ساحه کې جوړ شوی، چې (۳۵۰) متره اوږدوالی او (۲۳) متره پلنوالی لري، چې ورسره به د سوداگريزو توکو د خونديتوب په برخه کې سوداگرو او د گمرک کارکوونکو ته گټې اسانتياوې رامنځته شي. د يادې پروژې لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکړل شوی او چارې يې هم د يوه افغاني شرکت له لوري بشپړې شوې.

## د گمرکونو او عوايدو معينيت د اړوندو رياستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وشوه



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د دغه معينيت د اړوندو رياستونو د رئيسانو او مسئولينو په گډون د (۱۴۴۸)هـ.ق کال د همغږۍ لومړنۍ ناسته وشوه. په پيل کې د گمرکونو او عوايدو معين اړوندو مسئولينو ته سپارښتنه وکړه، چې په ټولو چارو کې مراجعينو ته اسانتياوې رامنځته کړي او له دوی سره لا ښه سلوک وشي. نوموړي زياته کړه، چې اړوندې چارې بايد پر خپل وخت تر سره شي او د تېرو مجالسو د ترسره شويو پرېکړو پايلې هم و ارزول شي. ورپسې د تېرې ناستې پر مهال ټاکل شويو پلاوو ته د ور سپارل شويو مسئوليتونو د اجراآتو راپورونه واورېدل شول او په اړه يې لازم هدايات وشول. همداشان په دې ناسته کې په اړوندو ادارو کې د مهمو سندونو پر ډيجيټلي کولو، د گمرکونو او عوايدو معينيت د احاطې پر لا ښه تنظيمولو، په گمرکونو او مستوفيتونو کې د کارکوونکو د وړتيا پر لوړولو، د ياد معينيت د همغږۍ ناستو لپاره د تخنيکي هيئت پر ټاکلو او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث وشو او لازمې پرېکړې وشوې. د يادولو وړ ده، چې د گمرکونو او عوايدو معينيت د همغږۍ ناستې هره مياشت د اړوندو رياستونو ترمنځ د کاري اړيکو د پراخېدو او د موجوده ستونزو د حل په موخه ترسره کېږي.



**د کابل د ودونو تالارونو د اتحاديې له مسئولينو سره ناسته وشوه**

م ۲



**د عوايدو لوی رياست مسئولينو له مستوفيتونو سره انلاين ناسته وکړه**

م ۲




**بورد حل منازعات مالياتی در ربع چهارم سال گذشته به (۲۷) قضيه رسيدگی نموده است**

م ۲



**د ماليې وزارت د شکايتونو اورېدو آمريت (۱۱) شکايتونو ته رسېدنه کړې ده**

م ۲




**د ننگرهار گمرک کارکوونکو ته د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو د تشريح او پوهاوي سيمينار پيل شو**

م ۳



**د ساتنې او ځانگړو عملياتو تنفيذي قطعې له تعليمي ټولۍ څخه (۷۰) تنه قومندانان فارغ شول**

م ٤

# د کابل د ودونو تالارونو د اتحادیې له مسئولینو سره ناسته وشوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ او د ګمرکونو او عوایدو معینیت د مشاورینو، د عوایدو د سیستم رئیس او د یاد ریاست د یو شمیر مسئولینو په ګډون د کابل د ودونو تالارونو اتحادیې له مسئولینو سره د نوي عوایدي سیستم د تطبیق په موخه ناسته وشوه. د ناستې په پیل کې د عوایدو لوی رئیس د مالیاتي ادارو او مالیه ورکوونکو لپاره د نوي عوایدي سیستم پر ګټو، ارزښت او د دواړو لوریو په چارو کې د رامنځته کېدونکو اسانتیاوو په اړه معلومات ورکړل.



ورپسې د یاد سیستم د ښه تطبیق په موخه د ګډونوالو نظرونه او وړاندیزونه واورېدل شول. پرېکړه وشوه، چې د ودونو تالارونو اتحادیه به له خپلو غړو سره تر مشورې وروسته خپل وروستي نظرونه او وړاندیزونه د عوایدو د سیستم ریاست له ټاکل شوي پلاوي سره شریک کړي؛ تر څو یاد سیستم په معیاري او اغېزمنه بڼه تنظیم، پلی او د ودونو تالارونو لپاره د مالیاتي تصفیې په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي.

د یادونې وړ ده، چې د روانې اوونۍ په پیل کې د عوایدو لوی ریاست مسئولینو د کابل ولایت د ودونو تالارونو له مسئولینو سره هم، د مالیاتو د سیستمي راټولولو په موخه ورته مشورتي ناسته کړې وه.

# د عوایدو لوی ریاست مسئولینو له مستوفیتونو سره انلاین ناسته وکړه

د عوایدو لوی ریاست د چارو د لا ښې همغږۍ، یوشانوالي او اغېزمنتیا په موخه د عوایدو د عملیاتي مرستیال په مشرۍ له ټولو مستوفیتونو سره آنلاین ناسته وکړه. په دې ناسته کې چې د عوایدو او ګمرکونو معینیت د غونډو په تالار کې ترسره شوه د عوایدو تخنیکي مرستیال، د عوایدو لوی ریاست رئیسانو او آمرینو، مستوفیانو او د ولایتونو د عوایدو آمرینو په انلاین بڼه ګډون کړی وو. د ناستې په پیل کې د عوایدو عملیاتي مرستیال ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ په ولایتونو کې د اداري چارو د لا ښه والي او چټکتیا له پاره له اړوندو ولایتي ادارو سره پر همغږۍ او همکارۍ ټینګار وکړ. نوموړي وویل، چې د ولایتي ادارو ترمنځ نږدې همکاري نه یوازې د چارو په چټکتیا کې مرسته کوي، بلکې د عوایدو د ټاکل شویو موخو پر وخت ترلاسه کولو کې هم مهم رول لري. همداشان د کوچنیو مالیه ورکوونکو ریاست له لوري په مرکز او ولایتونو کې د چارو د یوشان تطبیق په موخه د جایدادونو د ونډې کرایې، د اصنافو د ثابتې مالیې، د پمپ سټېشنونو، رسټورانټونو، د معاملاتو د لارښوونې دفترونو، ډاکټرانو او دارالوکالو د مالیاتو د راټولولو اړوند پروسو، طرزالعملونو او نورمونو په اړه تفصیلي معلومات وړاندې شول.



همدارنګه، د تنفیذ او اطاعت‌پذیرۍ ریاست له لوري د (KPI) راپورونو د ارزښت، اهمیت او عملي کارونې په اړه ګډونوالو ته معلومات ورکړل شول. ورپسې د عوایدو د تحقیق، پلان او نظارت ریاست د (۱۴۰۴ او ۱۴۰۵) مالي کلونو د لومړۍ ربعې د عوایدو مقایسوي راپور وړاندې او د عوایدو د وضعیت په اړه یې معلومات شریک کړل. د ناستې په وروستۍ برخه کې مستوفیانو او د عوایدو آمرینو خپلې نظریې، وړاندیزونه، ستونزې او غوښتنې مطرح کړې او د چارو د لا پراختیا او ښه والي په اړه یې له مسئولینو سره خپل نظرونه شریک کړل.

د یادونې وړ ده، چې د عوایدو لوی ریاست د مستوفیتونو د کاري ستونزو، لاسته راوړنو او پرمختګونو د ارزونې او تعقیب په موخه په هرو پنځلسو ورځو کې له ولایتي ادارو سره انلاین ناستې کوي؛ ترڅو د عوایدو په برخه کې د چارو همغږي او اغېزمنتیا لا پیاوړې شي.

# بورد حل منازعات مالیاتی در ربع چهارم سال گذشته به (۲۷) قضیه رسیدگی نموده است

بورد حل منازعات مالیاتی وزارت مالیه در ربع چهارم سال (۱۴۰۴) هـ.ش به بیش از (۲۷) قضیه رسیدگی نموده است که اکثریت مالیه دهندگان معترض از تصمیم‌های این بورد ابراز قناعت نموده و مبالغ تعیین شده را به بیت‌المال تحویل داده‌اند.

بورد حل منازعات مالیاتی وزارت مالیه که از پنج عضو متخصص تشکیل شده است فعالیت‌های مؤثر و سودمندی را در بخش حل منازعات مالیاتی و تأمین عدالت مالیاتی، ارتقای سطح اطاعت پذیری مالیاتی، اطمینان از تطبیق بهتر و دقیق‌تر قوانین مالیاتی، ایجاد اعتماد میان مالیه دهندگان و ادارات




مالیاتی، حمایت از جذب سرمایه گذاری در سکتور خصوصی و جلب رضایت مالیه دهندگان در پرداخت مالیات را انجام میدهد.

قابل یادآوری است که حل کردن مسلکی و تخنیکی منازعات مالیاتی نتایج دوجانبه را دارا میباشد؛ یعنی از یک جانب تأثیرات مثبت بر بودجه ملی و سیستم حسابداری (مدیریت نقدینگی) وزارت مالیه داشته و عواید باقیمانده حاصل میگردد و از سوی دیگر با ایجاد اعتماد میان مالیه دهندگان و ادارات مالیاتی رضایت سکتور خصوصی نیز حاصل میشود.

# د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۱۱) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډونې او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدنې مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه شویو شکایتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي. دغه آمریت د روان (۱۴۰۵) کال جوزا (غبرګولي)میاشتې په اوږدو کې ټول (۱۵) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي. له دې جملې (۱۱) شکایتونه د وټس اپ له لارې، (۲) شکایتونه په حضوري بڼه او (۲) شکایتونه د ټیلیفون له لارې له دغه آمریت سره شریک شوي دي، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کې ول او د دغه آمریت له لوري یې (۱۱) شکایتونو ته رسېدنه شوې، (۲) شکایتونه تر کار لاندې دي او (۲) شکایتونه لااجراء پاتې دي.

د یادونې وړ ده، چې ټول هیوادوال کولای شي، چې د مالیې وزارت د بېلابېلو څانګو په ځانګړې توګه د عوایدي سرچینو او د ګومارنې په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیک، وټس اپ، ټیلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لارې له دغه آمریت سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکایتونو ته په شفافه توګه او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.



د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶

SHTAMANI
اوونيزه

# د عوایدو لوی رئیس د کورنیو او نړیوالو مؤسسو له مسئولینو او استازو سره ناسته وکړه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ او د عوایدو عملیاتي مرستیال، د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ ریاست استازو او د لسګونو داخلي او نړیوالو مؤسسو د مسئولینو په ګډون د عوایدو او ګمرکونو معینیت د غونډو په تالار کې د کورنیو او نړیوالو مؤسسو د مالیاتي ستونزو د حل په موخه ناسته وشوه.

په پیل کې د عوایدو لوی رئیس د داخلي او نړیوالو مؤسسو له مسئولینو او استازو سره ناسته د مالیاتي تصفیې په برخه کې د ستونزو د حل لپاره ګټوره وبلله او زیاته یې کړه، چې دغه ډول ناستې د مالیې په اړه له نویو بدلونونو، پالیسیو او په مالیاتي بهیر کې د رامنځته شویو اسانتیاوو څخه د خبرېدو په موخه ګټورې دي؛ څو د راتلونکو مالیاتي تصفیو ستونزې حل کړي.

وروسته د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ ریاست استازي د ناستې ګډونوالو ته د غیر انتفاعي مؤسسو لپاره د مالیاتي معافیت د صادرولو په پروسه کې د رامنځته سویو سهولتونو په اړه معلومات وړاندې کړل، چې ورپسې بیا د عوایدو عملیاتي مرستیال مولوي اسدالله ساجد «خبیب» هم د مالیاتو په برخه کې د مؤسسو د هر ډول ستونزو د حل په موخه لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې، چې د مؤسسو له لوري د عملي کولو په صورت کې به د هغوی مالیاتي ستونزې حل، مالیاتي معافیت به پر وخت ترلاسه او د مالیې د تصفیې کارونه به یې په چټکۍ سره ترسره شي.

په دې مشورتي ناسته کې د کورنیو او بهرنیو مؤسسو استازو خپلې غوښتنې، ستونزې، د مالیاتي تصفیې او د مالیاتي معافیت ترلاسه کولو پر وړاندې د شته خنډونو د حل وړاندیزونه هم له مسئولینو سره شریک کړل.

د یادونې وړ ده، چې د عوایدو لوی ریاست د مالیاتي ستونزو د حل او د لازمو اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه له بېلابېلو مؤسسو سره ناستې ترسره کوي.

# د بدخشان مستوفیت کارکوونکو ته روزنیز پروګرام پیل شو



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم د بدخشان مستوفیت کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې او مسلکي کولو ترعنوان لاندې روزنیز پروګرام پیل شو. په دغه پروګرام کې به (۲۹) کارکوونکو ته مالیاتي قوانین، مالیاتي سیسټمونه او یو شمېر اړوند نور موضوعات د مجربو ښوونکو له لوري د (۲۳) ورځو په اوږدو کې په عملي او نظري ډول تدریس شي.

د یادونې وړ ده، چې د یاد پروګرام په ترسره کولو سره به د یاد مستوفیت د کارکوونکو وړتیاوې لوړې او په چارو کې به د پام وړ پرمختګونه رامنځته شي.

د مالیې وزارت
د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست
وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آګاهی عامه


## د بودیجې لوی ریاست کارکوونکو ته (د بودیجې ترتیب، طی مراحل او پلي کول) تر عنوان لاندې تخصصي ورکشاپ جوړ شو

د چنګاښ ۱۰مه ۱۴۰۵ هـ.ل

د مالیې وزارت د بودیجې لوی ریاست د هیواد د مالي نظام د پیاوړتیا او د مسلکي بشري ځواک د وړتیا لوړولو په موخه، د دې ریاست کارکوونکو ته د «بودیجې ترتیب، پړاوونه ترسره کول او پلي کول» تر عنوان لاندې یو تخصصي او اوږدمهاله (٦) میاشتنی ورکشاپ جوړ کړ.

د دې ورکشاپ اساسي موخه؛ د بودیجې جوړونې په بېلابېلو برخو کې د کارکوونکو د نظري پوهې او عملي مهارتونو لوړول، د بودیجې له اړوندو اصطلاحاتو سره بلدتیا، د بودیجې د پلي کولو کیفیت ښه کول او د حساب ورکونې او مالي مدیریت د بهیر پیاوړي کول دي.

د بودیجې لوی رئیس عبدالجبار وحدت، د دې ورکشاپ د پرانیستنې په مراسمو کې وویل، چې د دې ورکشاپ جوړول د انساني سرچینو د وړتیا لوړول، د مالي مدیریت د کیفیت ښه کول، د روڼتیا او حساب ورکونې د فرهنګ د پیاوړتیا او د عمومي بودیجې پلي کولو د اغېزمنتیا زیاتولو په برخه کې یو مهم ګام دی. نوموړي له ګډونوالو څخه وغوښتل، چې د دې ورکشاپ له تخصصي موضوعاتو څخه په ګټې اخیستنې سره خپلې مسلکي وړتیاوې لوړې کړي او د بودیجې جوړونې د بهیرونو، د مالي سرچینو د مدیریت او د لا اغېزمنو خدمتونو د وړاندې کولو په ښه کولو کې فعال او رغنده رول ولوبوي.



په دې هر اړخیز ورکشاپ کې به د بودیجې له دورې سره بلدتیا، د ترتیب بهیر، پړاوونو ترسره کول، تصویب، پلي کول، د بودیجې څارنه او ارزونه، د بودیجې د سند د محتوا جوړښت او اساسي اجزاوو پېژندنه، د Open Budget Index - OBI) پرانیستې بودیجې د سیستم زده کړه، د بودیجې د روڼتیا شاخصونه او اړوند الزامات، د عامه لګښتونو اساسي مفاهیم، د مالي سرچینو د اغېزمن مدیریت اصول او له نافذه اصولو او مقرراتو سره سم د لګښتونو لارې چارې، د پروګرام پر بنسټ بودیجه جوړونه، د بودیجې عمومي مفاهیم او اصطلاحات، د حسابونو جدول (Chart of Accounts - COA) او یو شمېر نور مهم موضوعات تشریح شي.

د یادونې وړ ده، چې د بودیجې لوی ریاست پر دې دورې سربېره په پام کې لري، چې په نږدې راتلونکي کې د خپلو کارکوونکو د تخصصي ظرفیتونو د لا زیاتې پیاوړتیا په موخه ورته او بشپړوونکي روزنیز پروګرامونه هم پیل کړي.

وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آګاهی عامه

## د افغانستان د مسلکي محاسبینو اداري په تېرو دوو کلونو کې د حسابدارۍ او پلټنې په برخه کې اړین اصلاحات پلي کړي دي

د چنګاښ ۸مه ۱۴۰۵هـ.ل

د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست اړوند د افغانستان د مسلکي محاسبینو اداري (Afghanistan CPA) په تېرو دوو کلونو کې د حسابدارۍ او پلټنې مسلک د تنظیم، معیاري کولو او پراختیا په موخه یو لړ بنسټیز اصلاحات او پروګرامونه پلي کړي، چې موخه یې د مالي روڼتیا، حساب ورکونې او مسلکي معیارونو پیاوړتیا ده.

د دغو اصلاحاتو په لړ کې د هیواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د کورنیو او بهرنیو پلټونکو شرکتونو د جواز ورکولو رسمي بهیر پیلول او د پلټنې د خدمتونو کیفیت د ارزونې لپاره د کیفیت کنټرول (Quality Control Review) پروګرام رامنځته کول، چې موخه یې د نړیوالو معیارونو پلي کول، د مالي راپورونو اعتبار لوړول او د پلټنې د خدمتونو کیفیت ښه کول دي. د دې اقداماتو له لارې د پلټنې شرکتونه د قانوني او مسلکي چوکاټ لاندې تنظیم شوي او د مالي روڼتیا او حساب ورکونې د پیاوړتیا لپاره زمینه برابره شوې ده.

یادې ادارې د مسلکي محاسبینو د کمښت د حل لپاره د بشپړ تمویل (Fully Funded) بورسونو پروګرام هم پیل کړی؛ تر څو افغان ځوانانو ته د نړیوالو معیارونو له مخې د مسلکي محاسبې د زده کړې فرصتونه برابر شي. سربېره پر دې، تر اوسه له (۲۰) څخه ډېرو تعلیمي او روزنیزو بنسټونو ته د مسلکي حسابدارۍ د تدریس جوازونه ورکړل شوي، چې له امله یې د حسابدارۍ د زده کړو د پراختیا، د خصوصي تعلیمي سکتور د پیاوړتیا او د کاري فرصتونو د زیاتېدو زمینه برابره شوې ده.

دغې ادارې همداراز د اسلامي مالي نظام د پیاوړتیا لپاره د شرعي متخصصینو د بورډ د جوړېدو پر طرحه کار پیل کړی او د جواز ورکولو، کیفیت کنټرول، مسلکي معیارونو او مسلکي زده کړو اړوند اداري جوړښتونه یې هم بشپړ کړي دي.

یاد فعالیتونه د مالي راپور ورکولو د کیفیت، روڼتیا او حساب ورکونې کلتور، د پانګوالو باور او د نړیوالو او اسلامي مالي معیارونو د پلي کېدو لپاره مهم بنسټ برابروي او راتلونکې کې به د حسابدارۍ او پلټنې د مسلک د لا پیاوړتیا لپاره دغه ډول هڅې دوام ولري.

د یادونې وړ ده، چې د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست اړوند د افغانستان د مسلکي محاسبینو اداره (Afghanistan CPA) په (۱۳۹۲) هـ.ل کال کې رامنځته شوه، چې د اسلامي امارت له بیا خلي حاکمیت څخه را وروسته یې فعالیتونه له سره پیل او د مسلکي محاسبینو د روزنې، په دغه برخه کې د جواز ورکولو او د محاسبوي معیارونو د عملي کولو په برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري.

امارت اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آګاهی عامه

## د کابل د ودونو تالارونو له مسئولینو سره ناسته وشوه

د چنګاښ ٦مه ۱۴۰۵ هـ.ل

د مالیې وزات د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ او د دغه ریاست د عملیاتي مرستیال او د سیستم د رئیس په ګډون د کابل ولایت د ودونو تالارونو له مسئولینو سره د مالیاتو د سیستمي راټولولو په موخه ناسته وشوه.

د ناستې په پیل کې د عوایدو لوی رئیس وویل، چې د اسلامي امارت موخه ولس ته د اسانتیاوو رامنځته کول دي، په همدې موخه د عوایدو لوی ریاست د مالیاتي تصفیې د اسانتیا په تکل د یادې برخې لپاره ځانګړی عوایدي سیستم جوړ کړی، چې په کارونې سره به یې د عوایدو په برخه کې د تالارونو مدیریت غښتلی او د مالیاتي ادارو لپاره به هم د مالیې راټولول اسانه شي.

ور پسې د عوایدو د سیستم ریاست له لوري د ودونو تالارونو لپاره د عوایدو د سیستمي کولو په موخه د جوړ شوي سیستم تشریحي پریزینټېشن وړاندې شو. د کابل ولایت د ودونو د تالارونو مسئولینو د عوایدو لوی ریاست یاد اقدام د دواړو لورو لپاره ګټور وباله او د سیستم د لا غښتلتیا لپاره یې خپل نظریات او وړاندیزونه له مسئولینو سره شریک کړل.

د یادونې وړ ده، چې په سیستمي ډول د مالیاتي او غیر مالیاتي عوایدو راټولول، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د فرمان پر اساس ترسره کېږي، چې موخه یې په شفاف او منظم ډول د عوایدو راټولول دي.

د افغانستان اسلامي امارت
د مالیې وزارت
د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست
امارت اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آګاهی عامه

## د تثبیت شویو متقاعدینو د حقوقو د ورکړې نهم نوبتي مهالوېش

د غبرګولی ۳۱مه ۱۴۰۵هـ.ل

د مالیې وزارت د تقاعد د حقوقو عمومي ریاست د متقاعدینو د حقوقو د ورکړې نهم نوبتي مهالوېش اعلانوي، چې له مخې به یې د روان (1405) هـ.ل کال د چنګاښ (سرطان) میاشتې له (6) مې نېټې څخه له منظم مهالوېش سره سم، په نوبتي ډول د لاندې دوو تثبیت شویو ادارو د متقاعدینو د حقوقو ورکولو پروسه طی مراحل کېږي.

د لاندې ادارو قدرمن متقاعدین دې د تقاعد د حقوقو عمومي ریاست ته له حضوري ورتګ څخه مخکې د (WWW.pension.af) ویبسایټ څخه نوبت ترلاسه کړي او پر ټاکلي نوبت دې د خپلو حقوقو د طی مراحلو په موخه دغې ادارې ته مراجعه وکړي.

هغه قدرمن متقاعدین، چې د ادارې نوم یې په لاندې نوملړ کې شامل نه دی؛ د تقاعد د حقوقو عمومي ریاست ته دې مراجعه نه کوي!

| شمېره | د ادارې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د عامې روغتیا وزارت | ۱۴۰۵/۴/٦ | ۱۴۰۵/٦/۳۰ |
| ۲ | د دفاع وزارت ډګرمنان | ۱۴۰۵/۴/٦ | ۱۴۰۵/٦/۳۰ |

د پاتې نورو ادارو مهالوېش به په خپل نوبت سره اعلان شي.

SHTAMANI
اوونیزه

## د ننګرهار ګمرک کارکوونکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو د تشریح او پوهاوي سیمینار پیل شو




د ننګرهار ګمرک ریاست له لوري د دې ریاست او تورخم ګمرک آمریت (۲۰۰) کارکوونکو لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د فرمانونو د ښه تطبیق په موخه د فرمانونو د تشریح او پوهاوي (۱۵) ورځنی سیمینار جوړ شو.

د دغه سیمینار په پیل کې د ننګرهار ګمرک رئیس الحاج مولوي حافظ شاه حسین (حسیني) د سیمینار پر موخه او ارزښت خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ، چې ټول مسئولین باید د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) له فرمانونو څخه په ښه ډول پوهه حاصله کړي او د یادو فرمانونو د اطاعت سربېره یې په پوره ډول تطبیق کړي. ښاغلي حسیني له کارکوونکو وغوښتل، چې په پوره اخلاص، زغم او صبر سره په دې سیمینار کې ګډون وکړي او له وړاندې شویو موضوعاتو څخه په کاري برخو کې په احسنه توګه ګټه واخلي.

د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم د ننګرهار ګمرک ریاست په نوښت د ګمرکونو اړوندو موضوعاتو په اړه ورته روزنیز سیمینارونه په لاره اچول شوي ول، چې ښې پایلې یې لرلې دي.

# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه ۱ شهر کابل را طور جداگانه به اعلان مزایده می سپارد، مدت ۱ سال.
۱. دوکان نمبر A٦٤ به مساحت ۸,۰٦ متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۲۱۳) افغانی.
۲. دوکان نمبر B1-۲ به مساحت ۱۵,۱۲ متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۳۷۲) افغانی.
۳. دوکان نمبر B۳-٤ به مساحت ۱٤,۵۵ متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۹۹۸۱) افغانی.
٤. دوکان نمبر B5-٦ به مساحت ۱٤,٦۱متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۰۲۲) افغانی.
کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲
اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۵/۴/۸ الی ۱۴۰۵/۴/۱۷ به مدت (۱۰) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله ، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس:( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،
مجلس داوطلبی ۱۴۰۵/۴/۱۸به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دو جایداد ذیل را طور جداگانه به اعلان مزایده می سپارد، مدت سه سال.
۱. موازی ۱۳۱۰۷,٦ متر مربع زمین قطعه گمرکات واقع پکتیاکوت سمت شرق سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه ۹ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۸٤٤۳٤) افغانی.
کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۲۸۵۲٤۸ ۳٤,۵٤۵۱۹۲
۲. موازی ٦۳۲۷,۷ مترمربع زمین قطعه گمرکات واقع پکتیاکوت سمت شرق سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه ۹ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۳۷۳۱۱) افغانی.
کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۲۸۳۸۷۵ ۳٤,۵٤٤۹۹۷۳
اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۵/۴/۸ الی ۱۴۰۵/۴/۱۷ به مدت (۱۰) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله ، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس:( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،
مجلس داوطلبی ۱۴۰۵/۴/۱۸به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه موازی ٦۳۰۰ متر مربع زمین چهار دیواری واقع گمرک سابقه، قریه بت خاک مربوط ناحیه ۱۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۴۸۸۲۵) افغانی به اعلان مزایده می سپارد . مدت (۵) سال.
کوردینات (جی پی اس) نمبر: ٦۹,۳۷۰۸۰۲. ۳٤,٤۹۸۹۰۲.
اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۵/۴/۸ الی ۱۴۰۵/۴/۱۷ به مدت (۱۰) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله ، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز. شماره تماس ( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)، مجلس داوطلبی ۱۸ /۱۴۰۵/۴ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### اطلاعیه

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظردارد، پروژه تهیه و نصب سیستم برق سولری گمرک آیخانم دارای نمبرتشخیصه ۱٤۰۵/MOF/ ۱۰۹۷-NCB/W را با شرکت ساختمانی و انجنیری برایت روز دارنده جواز نمبر ۵۵۱۱۰ به قیمت مجموعی چهار میلیون و هشت صدو سی و چهارهزار و سه صدو چهل افغانی عقد قرارداد نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی۵ روز کاری طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نمایند
این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات،آمریت ارزیابی آفرها و خریداری پرچون- منزل دوم معینیت اداری.

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه وصل یک پایه جنراتور به سیستم برق وزارت مالیه دارای نمبر تشخیصه ۱۹۰۰-NCB/W/۱٤۰۵/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء میگردد بدست آرند.
تاریخ جلسه قبل از داوطلبی: ۱۰/سرطان/۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر
تاریخ مشخص آفرگشایی: ۱٤/سرطان/۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر
آدرس: پشتونستان وات- وزارت مالیه- کابل- افغانستان
منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)،
ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

# شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤول مدیر: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

محرم الحرام ۱۸ -۱۴۴۸ س | د چنګاښ ۱۳ -۱۴۰۵ ل ل | د جولای ۴ -۲۰۲٦ ز | شپږم کال | ۱٦۷ ګڼه | ٤ مخیزه




## د عوایدو لوی ریاست دوو بستونو ته نوي مسئولین معرفي شول

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام د (۹۸) ګڼې حکم پر بنسټ پوهنیار نداء محمد صدیقي د عوایدو د تخنیکي مرستیال او پوهندوی غلام عمر عبدالله د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ د رئیس په توګه ټاکل شوي دي.

د دغو مسئولینو د معرفت غونډه د عوایدو او ګمرکونو معینیت د غونډو په تالار کې جوړه شوه، چې د عوایدو او ګمرکونو معین، د عوایدو لوی رئیس، د معینیت مشاورینو، اړوندو رئیسانو او آمرینو ګډون پکې کړی وو.

په دې مراسمو کې د عوایدو او ګمرکونو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید، د امارتي دندو د ارزښت او مسئولیت په اړه خبرې وکړې. نوموړي وویل، چې امارتي دندې امتیاز نه؛ بلکې امانت او درونده مسئولیت دی او ټینګار یې وکړ، چې مسئولین باید خپلو دندو ته د خدمت او ژمنتیا له نظره وګوري او د کاري بهیر د لا پرمختګ لپاره خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي.

له غونډې وروسته نوي ټاکل شوي مسئولین خپلو اړوندو کاري شعبو ته ور وپېژندل شول او له اداري کارکوونکو سره یې د خپلو دندو د پیل په موخه لیدنې ترسره کړې.

د یادونې وړ ده، چې پوهنیار نداء محمد صدیقي تر دې وړاندې د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ د رئیس په توګه او پوهندوی غلام عمر عبدالله د ملي بودیجې د پلان او ریفورم د رئیس په توګه دندې ترسره کړې دي.

## رئیس عمومی املاک امارتی به ولایات میدان وردک و غزنی سفر نمود




رئیس عمومی املاک امارتی الحاج حافظ عبدالقدیر حقانی، در رأس یک هیئت تخنیکی به ولایت‌های میدان وردک و غزنی سفر رسمی نمود.

در جریان این سفر رئیس عمومی املاک امارتی با مستوفیان ولایات متذکره دیدار نموده و در رابطه به حفظ و نگهداری، مدیریت، تثبیت و استفاده مؤثر از جایدادهای امارتی بحث‌های همه جانبه کردند.

رئیس عمومی املاک امارتی از جایدادهای امارتی در این ولایات از نزدیک بازدید نمود، وضعیت موجود آن را مورد ارزیابی قرار داد و به منظور تنظیم، حفظ و نگهداری بهتر و استفاده قانونی از جایدادها به مسئولان مربوطه هدایات لازم نمود.

قابل یادآوری است که مسئولان املاک امارتی وزارت مالیه به منظور ارزیابی وضعیت جایدادهای در ولایات سفرهای رسمی انجام می‌دهند.

## د ساتنې او څانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې له تعلیمي ټولۍ څخه (۷۰) تنه قومندانان فارغ شول





د ماليې وزارت د ساتنې او څانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې له تعلیمي ټولۍ څخه د مرکزي او ولایتي امنیتي مفروزو او ګرځنده څارنې (۷۰) تنه قومندانان له (۱۰) ورځنۍ روزنیز سیمینار څخه فارغ شول.


په همدې تړاو جوړو شویو څانګړو مراسمو کې د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید، د ساتنې او څانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې عمومي قومندان حافظ مولوي محمد نور عبید، د ښوونې او روزنې مدیر مفتي عبدالرزاق عبیده او ګڼ شمېر نورو مسئولینو ګډون کړی وو.

د ګمرکونو او عوایدو معین فارغ شویو قومندانانو ته په خطاب کې وویل، چې کله تاسو خپلو مسئولیتونو ته ور وګرځئ تر خپلو لاس لاندې کسانو او چارو په برخه کې په حق پرېکړه کوئ، د حق پلویان اوسئ، له قوم پرستۍ، لسان پرستۍ څخه ځانونه وساتئ، په خپلو منځونو کې د اتحاد، اتفاق او د ورورولۍ فضا رامنځته کړئ، ځکه په اتحاد او اتفاق کې مو د وطن خیر او ابادي ده.

ښاغلي سعید زیاته کړه، چې د یوه ښه مسئول صفات او نښې دادي، چې باید امین وي له خیانت، فریب، چل او دوکې څخه لیرې وي، مسئول باید د نفس تابع نه وي، مسئول باید شجاع وي د ښې تجربې او زکاوت خاوند وي. غونډه د تصدیق پاڼو په وېشلو او د خیر دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده، چې د ساتنې او څانګړو عملیاتو تنفیذي قطعه د ماليې وزارت اړوند تاسیساتو او سوداګریزو توکو د ساتنې سربېره، د قاچاقي توکو، ملي عوایدو له تېښتې او ګمرکي سرغړونو څخه د مخنیوي مسئولیت په غاړه لري.

## د کابل ولایت خصوصي روغتونونو د مالي برخي کارکوونکو ته د (E-filing) سیمینار جوړ شو




د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست له لوري د کابل ولایت د خصوصي روغتونونو د مالي برخې کارکوونکو ته د ګمرکونو او عوایدو په ملي اکاډمۍ کې د ابتدایي سنجونې، بررسۍ او د (E-Filing) سیستم د اغېزمنې کارونې په موخه یو ورځنی عملي سیمینار جوړ شو.

په دې سیمینار کې ګډونوالو ته د ابتدایي سنجونې، د (E-Filing) سیستم له لارې د مالیاتي اظهارنامو د ډکولو، د کلني بیلانس چمتو کولو، د مالیاتو د تحصیل پروسو او بررسۍ په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شول. همدارنګه د ګډونوالو د لا زیات پوهاوي په موخه د اظهارنامو د ډکولو طریقه په عملي ډول ور وښودل شوه.

د یادونې ده، چې د ماليې وزارت له لوري به د مالیه ورکوونکو د پوهاوي او ظرفیت لوړولو په موخه دې ته ورته روزنیز پروګرامونه دوام ولري؛ څو مالیه ورکوونکي له خپلو مالیاتي مکلفیتونو، مسئولیتونو او د ماليې د تصفیې له پروسو څخه خبر او پرته له ستونزو خپل مالیات تصفیه کړي.


### د ماليې وزارت د ګمرکونو عمومي ریاست تل ستاسو په خدمت کې دی!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱





### د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای شي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره یې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af